# د امن او مینې ستر پیغمبر خوشحال خان خټک

ډاکټر علي کمیل قزلباش

**Abstract:**Peace is an inherent human value and literature is one of the core source for reinforcing human belif on beauty, love and peace as eternal values. Keeping in view the above statement, this paper investigates a an image of Khushal Khan Khattak,that is rarely seen in the context of love and peace. Khushal Khan Khattak the reckoned pashto poet of 17th century is mainly known as warrior and scholar but his firm commitment to love,peace and beauty is always overlooked in most of the cases which highlighted in this paper with a profound objective analysis.

د امن تعریف چې تر څو مونږ ځان ته غوره نهٔ کړو د پښتو ادب په لمن کښې په امن پسوللي غمیان لټول اسان نهٔ دي. یعنې یا خو به مونږ محدود شو او یا به بیا هسې د حدودو په لټون کښې سرګردانه پاته شو.

د امن توری چې د عربي دی په خپل ځان کښې د لغوي معنٰی په حواله هم زمونږ موضوع ته نزدې دی او په اصطلاحي توګه خو ډېر زیات نوښت لري. لېکن مختصره دا چې هغه ځای، هغه څوك، هغه شی چې د مأمن کېدو صلاحیت ولري یعنې دا د ژوند هغه بنیادي نکته ده د کوم بغېر چې ژوند په هېڅ معنٰی د ژوندون عکس نهٔ ورکوي. د دې د اهمیت او قیام خواهش او امکانات په هره توګه د ذکر وړ دي. حتٰی د سیاستمدار خو دا د سیاست د میدان تر ټولو اهم او د کار ګوئي دی. یعنې هرې خوا ته چې ځغلي نو په مخه کولی ئې شي، خو افسوس خرابوي ئې تر څو چې د ادب خبره ده نو په ادب کښې دا باید چې براه راست راواخستل شي لکه څنګه چې نور موضوعات د بدیع او بیان په ژبه ژورتیا او خوږوالی پیدا کوي دغه ډول دا هم که په دې تکیه داره شي نو به ادب هم وي او د امن نعره هم. ګنې نو صرف او صرف به یوه پروپېګنډه او سیاسي نعره وي او بس.

مـونږ دا بحـث هـم کـوو چـې ليکـوال او شـاعر د امـن دپـاره څـۀ کـردار لوبـولی دی خـو دا نـۀ ګـورو چـې دا سـوال لکـه څنګـه چـې مـونږ لـه يـوه سياسـتمدار څخـه کـوو بعينـه ئـې لـه ليکـوال څخـه څنګـه کـولای شـو. هـم دغـه وجـه ده چـې نـن پښـتو ادب خصوصـاً شـاعري زيـاتره د سياسـي نعـره بـازۍ او پروپېګنـډې نـه ډکـه ده. ولـې چـې ليکـوال او شـاعر نـۀ بايـد د چـېن غونـدې د بـازار پـه نـرخ د خپـل جنس تعمير او نـه د وقتـي واه واه پـه طمع لـه ادبـه لـرې ولاړ شـي. خـو لـه بـد مرغـۍ داسـې کېـږي. هـم دغـه وجـه ده چـې پـه دې اهـم او اساسـي موضـوع بانـدې راغونـډ شـوې غونـډې او سـيمينارونه هـم د سياسـي نعـره بـازيو ښـکار شـي يـا بيـا پـه هغـه رنـګ کښـې د يـوې ورځـې د اخباري خبر غوندې له سبا نه محرومه شي.

سـتر خوشـحال خـان خټـک چـې مـونږ همېشـه اول د دۀ تـوره او بيـا قلـم يـادوو هـم د دې سياسـي نعـره بـازۍ ښـکار شـوی دی او د دۀ نقـادانو دی باقاعـده يـو جنګيـالی معرفـي کـړی دی چـې د دۀ لـه شـاعرانه مقـام او فکـر سـره سراسـر ناانصـافي ده. د دۀ فـن او شخصـيت زمـونږ نقـادان "يـا بـه وخـوري ککـرۍ يـا بـه کـامران شـي" څخـه شـروع کـړي او چـې "پړکـا پـه سـپينو تـورو وي د زغـرو" بانـدې ختمـوي. زمـا پـه خيـال کـه خوشـحال شـاعر نـۀ وای او تـر دې چـې دی، لانـور غـټ جنګيـالی وایٔ نـو نـن بـه دغـومره ګمنامـه ؤ لکـه نور ډېر تـورزن چې دی. خـو کـه صرف شـاعر وایٔ نو هم بـه پـه دغـه مقـام او مرتبـې ولاړ وای بلکـې لازيـات. مطلـب دا شـو چـې د دۀ ځـایٔ پـه زړونـو کښـې د دۀ د تـورې لـه کبلـه نـۀ دی. بلکـې د دۀ د قلـم لـه کبلـه دی او هغـه قلـم چې د درد شناخت لري او هر هغه څوک چې دردمن وي، امن پسند وي:

ربـــــه! دردمـــــن کـــــړې، بـــــې دردمـــــن واړه
چـــــې واړه ژاړي، زمـــــا پـــــه غـــــاړه
خوشـــــحاله! ملـــــک لـــــه، بـــــې دردو ډک دی
دردمـــــن پـــــه نـــــورو ملکونـــــو غـــــواړه (1)

يعنـي خوشـحال نـن هـم د بـې دردو پـه لاس کښـې دی. امـن چـې زمـا پـه خيـال کـه پـه پښـتو کښـې ئـې پـه اصـطلاحي معنـا وژبـاړو نـو بـه مينـه شـي. يعنـي هـر ځـائ چـې د مينـې فضـا وي. مينـه لـه انسـانه را واخلـې بيـا تـر خپلـې خـاورې او کـار او روزګـار هرڅـۀ سـره د انسـان تـړون پيـدا کـوي. هلتـه خـود بخود د امن فضا قائمه شي. د خوشحال په نظر کښې:

"محبـــت غـــلام بادشـــاه بادشـــاه غـــلام کـــا
خبـــر واخلـــه لـــه ايـــازه لـــه محمـــوده (2)

د امـــن مقـــام او مرتبـــه هغـــه ده چـــرې چـــې د باچـــا او رعايـــا د ارام او سـکون پـه احکامـاتو کښـې فـرق نـۀ شـي پاتـه او د دواړو پـرواز لکـه د عطـار د مرغيـو پـه يـوه منزلـت وي، خـو د دې د امـن د قيـام دپـاره د امـن د کـور د مغان سره وفاداريانې ساتل ضروري دي.

کـــه ګـــدا شـــي د مغـــان پـــه خرابـــات کښـــې
همېشـــه بـــه لکـــه جـــم فراغـــت کښـــېنې (3)

مقصـد دا چـې د خوشـحال خميـر لـه خېـره پورتـه شـوی دی نـۀ چـې لـه شـره، هغـه پـه امـن کښـې خپـل سـکون او د نـورو بقـا وينـي نـۀ چـې پـه جنـګ کښـې خـو د دۀ بيـان لکـه چـې مخکښـې ووئيـل شـو بـراه راسـت او د سياسـي نعـره بـازۍ پـه شـکل کښـې نـۀ دی بلکـې هغـه پـه مکملـه توګـه د ادبيـت او شـعريت پـه لبـاس کښـې د آفاقيـت پـه رنـګ کښـې رنګېـدلی دی. دی کـه د تـورې خبـره کـوي نـو هـم د اصـول پـه بنيـاد، کـه د جنـګ او مبـارزې خبـره کـوي نـو هـم د "مـآمن" پـه لټـون کښـې دی. دی د ظـالم د حـق تلفـي د کـار خـلاف تـوره اخلـي نـۀ چـې د سـردارۍ او د ملکـۍ د کرسـۍ دپـاره. دی هـېڅ کلـه نۀغواړي چې تر توري را لاندې خبره نۀ و شي بلکې اول دا وايي چې:

څـــو پـــه تـــورو پـــه توبريـــو پـــه نېـــزو شـــي
صـــد چنـــدان شـــي پـــه تـــدبير پـــه هنرونـــو (4)

او د جنګ او مبارزې لارې هم په صحيح توګه مونږ ته ښايي چې دا جنګ په امن باندې اختتام ته رسيږي.

همېشه ژوندون که غواړې درته وايم
همېشه کوه د نفس سره جهاد (5)

بل ځای وائي:

هوښيار هغه دی چې سخت جنګونه
د خيره را ولې په فرهنګونه
نادان هغه دی چې په کار د صلحې
ګډ که د شر و فساد رنګونه (6)

د خوشحال په کلام کښې د امن نعره ډېره په لوړ او خلاص اواز کښې موجوده ده خو نه د نعره بازۍ په شکل کښې نۀ بلکې د يوې نظريې په صورت کښې. د دۀ په نظريه که عدل قائم وي نو امن به خود بخود و خپل ځای ته ورسيږي يعني عدل د امن پېش رو دی.

چې په کار د مملکت دی
عدالت دی، عدالت دی
عدل نور د درست جهان دی
درست جهان په دۀ ودان دی
د پرهار مرهم دی عدل
په ستم ستم دی عدل
که کافر وي چې عادل وي
درست عالم ځنې خوشدل وي (7)

بل ځای د نوشېروان په حقله وايي چې:

ورك د ظلم كار يكباره
درست معدوم شه زما ياره
په هر لوري ښۀ اواز ښۀ
عادل نوم وربانـدې ساز شه

لاتراوســـــه ئـــــې د عـــــدل
نـــوم يـــادېږي پـــه هـــر نقـــل (8)

بل ځای وايي:

پيرزوينــــــه، ښـــــۀ ســـــلوك ګنجينـــــه عـــــدل
کـــــه دي دا خويونـــــه شـــــته څـــــۀ غـــــواړې نـــــور
پـــــه خصـــــلتونو کښـــــې عـــــدل و انصـــــاف ښـــــۀ دی
لـــــه ښـــــو لـــــه بـــــدو ســـــره زړۀ صـــــاف ښـــــۀ دی
چـې څـوك دې غـابښ مـات کـا تـه ئـې هـم غـابښ مـات کـا
کـــه عـــذر خـــواه شـــي غـــابښ ئـــې معـــاف ښـــۀ دی (9)

دغـه خبـره چـې خوشـحال مـونږ تـه کـوي عـين اسـلام دی. او دا ټـول پـه اســلام کښــې هــم د امــن د راوســتلو دپــاره تلقــين شــوی دی. خــو د دې خبــرو دينـي شـرايطو او نصـائحو اثـر بـه هلتـه کېـږي چـې پـه خلقـو کښـې شـعور وي بلکـې پـه شـعوري توګـه ئـې ديـن و آ ئـين قبـول کـړي وي نـۀ چـې پـه روايتـي توګـه، او کلـه چـې پـه روايتـي توګـه وي نـو د خپـل د نفس امـاره د يـوې لمحـې د تسکين دپاره به د ټولې نړۍ په امن حمله کوي. خوشحال وايي:

دا همــــه لــــه نــــاپوهي نــــه پيــــدا کېــــږي
خرخشــــی، دعــــوې، ناســــازي شــــر و شــــور (10)

د خوشـحال پـه آئـين کښـې خـود خـواهي او خـود غرضـي پـه خپلـه د سـړيتوب ضـد دی او د دغـو پـه وجـه انسـان د انسـان دښـمن ګرځـي او دا دښـمني د امـن نـوم لـه جهانـه وړي لکـه چـې نـن ئـې مـونږ ټـول پـه ټولـه نـړۍ او بالخصـوص پـه ټولـه پښـتونخوا او د پاکسـتان پـه خـاوره شـاهدان يـو. خوشحال د دې علاج مونږ ته راښوولی دی:

"وګـــــړي واړه کارونـــــه خپـــــل کـــــا
مـــردان هغـــه دي چـــې کـــار د بـــل کـــا
څـــوك چـــې ارام کښـــې د نېکـــو نـــام شـــي
د خـــوږو زړونـــو دارو بـــه تـــل کـــا (11)

یا دا چې:

ښــــهٔ ســــړی د چـــا پـــه بـــدو نظـــر نـــهٔ کـــا
کــه څــوك بــد ورســره کانــدي دی بــه ښــهٔ کــا (12)

بلـه نکتـه چـې د خوشـحال پـه آئـین کښـې د امـن د تبـاهي او لارنیـوي باعث ګرځي هغه د خود غرضۍ او بې دردۍ ده. دی وایي:

درد چـــې پـــه بـــل وي خبـــر پـــرې نـــهٔ وي
چـــې دی پـــه ځـــان شـــي لـــه درده چـــوي
ســـود و زیـــان د هـــر چـــا جـــدا جـــدا دي
کلـــه د بـــل پـــه خـــورك مـــوړ تـــهٔ وي (13)

او پـه کـومې نکتـې چـې خوشـحال مـونږ پوهیـول غـواړي لـه افلاطونـه بیـا تـر ننـه پـورې پېغمبـران، د شـعور او د قلـم خاونـدان او عارفـان د انسـان د پوهولـو پـه کوشـش کښـې اختـه دي. خـو حقیقـت چـې دا لاتراوسـه یـو خـوب دی. ولـې چـې د دې مبلغینـو د تبلغیـاتو غلـط توجیهـات او تشـریحات بېرتـه انسـان د شـر او خـود غرضـي پـه خـوا بیـايي. اګرچـه د نـورو پـه ډول خوشحال هم وايي چې:

پـــه دوســـتانو تلتـــف کـــړه څـــو پـــه تـــا شـــي
د دښـــمن ســـره هـــم تـــهٔ کـــوه خلقـــت
د لمانځـــه تـــر قضـــا ګرانـــه قضـــا دا ده
چـــې قضـــا شـــي د ځلـــورو مصـــلحت
نـــوراني کـــه هغـــه ځـــای چـــې ســـره کښـــېني
د پرینـــه ځلـــور هوښـــیار پـــه مصـــلحت

شـــور، غوغـــا، جنـــګ و جـــدل بـــه تـــر مـــنځ نـــهٔ وو
کـــه هـــر څـــوك ســـره راضـــي وای پـــه قســـمت (14)

او کـه خوشـحال د دنیـا طلبـي دپـاره د جنـګ او جـدال بازارونـه ګـرم ساتلی نو هېڅ کله به ئې دا نهٔ وئیل:

چـــې کـــالي ئـــې پـــاتي نـــهٔ شـــي مـــرده شـــوی تـــه
خدایـــــه ورکـــــړې و خوشـــــحال هســـــې رحلـــــت

دا راحـــــت لکـــــه د فقـــــر پـــــه پـــــوزی دی
دا راحـــت نـــهٔ شـــته پـــه تخـــتِ ســـلطنت (15)

د خوشحال پـه نـزد د مـومن تعریـف چـې پـه خپلـه د امـن نـهٔ وتلـی تـوری دی. په دا ډول دی:

"مـــــومن هغـــــه دی چـــــې جـــــوړ یقـــــین لـــــري
ویـــــره لـــــه خدایـــــه انـــــدوه د دیـــــن لـــــري
بـــار د هـــر چـــا وړي خپـــل بـــار پـــه چـــا نـــهٔ ږدي
ښـــهٔ ئـــې کـــردار وي ښـــهٔ همنشـــین لـــري (16)

او د انسان علامت ئې په دا ډول ښکاره کړی دی:

کلـــــه جنـــــګ تـــــه هـــــوس کـــــا
چـــــې آتشـــــي مـــــومي بشـــــر
کـــه پـــه صـــلحه کښـــې روزګـــار شـــي
څـــهٔ حاجـــت د تېـــغ و تیـــر (17)

او د مـرد دپـاره هـم دې مـومن کـس یـو معیـار ټـاکلی دی چـې د هغـهٔ نـه چـې بهـر شـي نـو مـرد نـهٔ دی بلکـې یـو بـې درده کـس چـې د امـن و آتشـي دښمن وګرځي او ټولنه د تباهي سره مخامخ کړي. دی وايي:

"مـــــردان نـــــن جنـــــګ کـــــا آتشـــــي ســـــبا کـــــا
چـــــې ســـــره کښـــــېني صـــــلح و جفـــــا کـــــا
څـــــو ئـــــې ژړا وي هـــــومره خنـــــدا وي
څـــو ئـــې جفـــا وي هـــومره وفـــا کـــا (18)

یا دا چې:

مـــــردان هغـــــه دي چـــــې همـــــت نـــــاك دي
د ننـــګ پـــه کـــار کښـــې چســـت و چـــالاك دي

کــــار چـــې آغـــاز کـــا انجـــام ئـــې فـــرض کـــا
پـــه زړۀ هـــم پـــاك دی پـــه خولـــۀ هـــم پـــاك دی (19)

ستر خوشحال خان ختټك تر څۀ حده د امن، مينې او د عشق د دنيا خوښوونکی او داعي وو. دا د دۀ په شاعري کښې په ښۀ توګه ليدل کېږي. دی په ډېر لوړ غږ د خپل ذات پېژندګلوي و مونږ ته وړاندې کوي خو افسوس چې مونږ ئې و دې اړخ ته هډو ګورو نۀ، چې:

"د خوشـــحال ختټـــك لـــه عشـــقه ګفتګـــوی شـــي

يا دا چې:

عشـــقه! تـــه تـــر اورنګزېـــب باچـــا بهتـــر ئـــې
چـــې خوشـــحال دې پـــه عـــالم کښـــې ســـربلند کـــړ (20)

او د امن ارمانجن او د امن خوښوونکی په څومره ارمان وايي چې:

جهـــــان واړه کـــــور د عشـــــق د محبـــــت دی
پـــه خوشـــحال بانـــدې بانـــډه شـــو رتتبهـــور (21)

او دا هم دغه خوشحال وئيلي دي چې:

د فســـاد نيـــت مـــې نشـــته خـــدای حاضـــر دی

په اخېر کښې به د خوشحال په ژبه دومره ووايم چې:

خوشـحال کـه بتخانـه دی نصـيحت خـو ئـې خـوار مـه کـړه
الهـــام دی چـــې ئـــې وايـــي دا کـــلام پـــه افغـــاني (22)

# حوالې

(1) رسول، سيد ، رسا ، مقدمه ارمغان خوشحال، يونيورستي بك ايجنسي، پېښور، دويم چاپ، 2001ء، مخ 183.
(2) خوشحال خان خټك، ديوان، ترتيب او تدوين حاجي پردل خټك، ادارۀ ثقافت خيبر پښتونخوا ، پېښور، لومړی ټوك، مخ 11.
(3) رسول، سيد ، رسا ، ارمغان خوشحال، مخ 620.
(4) خوشحا خان، خټك، ديوان، مخ 259.
(5) همدغه، مخ 111.
(6) خوشحال خان، خټك، ديوان، مخ 79.
(7) اخلاقنامه، سريزه او سمونه، حبيب الله رفيع، افغاني كلتوري ټولنه، نيوز لېنډ (هالېنډ) كال 2001ء، مخ 57.
(8) همدغه، مخ 78.
(9) همدغه، مخ 110.
(10) خوشحال خان، خټك، ديوان، مخ 86.
(11) معتمد ، محمد اكبر ، ننګيالی پښتون، پښتو ټولنه كابل، 1345هـ مخ 104.
(12) خوشحال خان، خټك، ديوان، مخ 91.
(13) همدغه، مخ 211.
(14) همدغه، مخ 553.
(15) رسول، سيد ، رسا ، مقدمه ارمغان خوشحال، مخ 56.
(16) خوشحال خان، خټك، ديوان، مخ 224.
(17) همدغه، مخ 353.
(18) رسول، سيد ، رسا ، مقدمه ارمغان خوشحال، مخ 109.
(19) همدغه، مخ 292.
(20) همدغه، مخ 6.
(21) خوشحال خان، خټك، ديوان، مخ 123.
(22) همدغه، مخ 659.